مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ډاکټر محمدآجان مرزئ

۲۰۲۰/۰۲/۱۲

# د هېوادونو د اقتصادي ودې سنجولو لپاره شاخصونه

د هېوادونو د اقتصادي ودې سنجولو لپاره بېلابېل شاخصونه موجود دي. له دغو څخه يو د ناخالصو ملي محصولاتو شاخص دی. زیات نړېوال اقتصادي بنسټونه په خپلو رپوټونو کې د هېوادونو اقتصادی ودې ښودلو لپاره دا شاخص کاروي. دا شاخص په یوه هېواد کې د یوه کال په لړ کې په ناخالصو ملي محصولاتو کې مثبت او یا هم منفي بدلون ښکاره کوي. کله چې په ملي اقتصاد کې له ناخالصو ملي محصولاتو څخه استهلاکونه منفي شي، ناخالص ملي عايدات ترلاسه کېږي. د ناخالصو ملي عايداتو شاخص پر بنسټ د يوه هېواد د وګړو له شمېر سره له نسبت ورکولو وروسته د سرانه ناخالصو عايداتو شاخص ترلاسه کېږي، او بيا د هغه له مخې د هېوادونو د وګړو د ژوند کچه ارزول کېږي. خو د دې شاخص یوه لویه نیمګړتیا داده، چې د ترلاسه شووعوايدو د ويش په اړه کوم معلومات نشي ورکولای. د بېلګې په توګه په افغانستان کې د نړیوال بانک د ارقامو پر بنسټ سرانه ناخالص ملی عايدات (په روانو بیو) په ۲۰۱۸ ميلادي کال کې ۵۵۰ امريکايي ډالر وو (نړېوال بانک، ۲۰۱۹). دا رقم وروسته د پیرودنې وړتيا برابری شاخص (Purchasing Power Parity) پر بنسټ سنجول کېږي. د پیرودنې وړتيا برابرۍ شاخص پر بنسټ د سرانه ناخالصو ملي عايداتو کچه لوړه ده، ځکه چې په افغانستان کې د یوه امريکايي ډالر د پیرودنې وړتيا، د بېلګې په توګه، د امريکې په متحده ایالتونو کې د یوه امريکايي ډالر د پیرودنې له وړتيا زياته ده. په افغانستان کې د پیرودنې وړتيا برابرۍ شاخص پر بنسټ، په ۲۰۱۸ ميلادي کال کې، سرانه ناخالص ملي عايدات ۱۹۷۰ امريکايي ډالر وو. خو دا په دې معنی نه ده چې د افغانستان د ټولو وګړو سرانه ناخالص ملي عايد په دې کال کې ۱۹۷۰ امريکايي ډالر وو. په دې توګه دا شاخص د هېوادونو حقيقي سوکالی په اړه پوره معلومات نشي ورکولی. د نړیوال بانک د ارقامو پر بنسټ د تېرو کلونو په لړکې په هېواد کې سرانه عايداتو وده کړې ده خو سره له دې هم د بېوزلۍ کچه زياته شوې ده. په هېواد کې د بېوزلۍ کچه په په ۲۰۱۲ ميلادي کال کې ۳۸،۳% او په ۲۰۱۷ ميلادي کال کې ۵۴،۵% وه (نړېوال بانک، الف، ۲۰۱۸).

نړېوال بانک او هم نور نړېوال اقتصادي بنسټونه د ملی عايداتو د ويش د ځرنګوالي د ښودلو لپاره په خپلو ارزونو کې يو بل شاخص کاروي، چې د جينی ضريب یا شاخص (Gini Index) په نامه یادېږي. دا شاخص د عايداتو د ويش نسبي تراکم کمي ټاکني لپاره د سنجولو يوه منل شوې وسيله ده. که عايدات په اعظمي توګه مساوي وېشل شوي وي، يعني هر وګړی د يوې دورې منځنی عين اندازه عايد ترلاسه کړي، نو دا شاخص به صفر وي. که عايدات په اعظمي توګه غيرمساوي وېشل شوي وي، يعني ټول عايدات يو تن ترلاسه کاندي نو د دې شاخص ارزښت به يو وي (د اقتصاد قاموس). په دې توګه، هرڅومره چې د دې شاخص ارزښت صفر ته نږدې وي د عايداتو ويش په يوه ټولنه کې په هماغه اندازه عادلانه دی، او برعکس. دا شاخص په يوه هېواد کې د وګړو د شمېر او عايداتو پر بنسټ سنجول کېږي. څرنګه چې په افغانستان کې د امنيتي اوضاع له امله د کورنيو د عايداتو په اړه د معلوماتو راغونډول ګران کار دی، نو د دې شاخص په اړه هم معلومات موجود ندي.

د جينی شاخص دا خبره په ګوته کوي چې د هېوادونو پرمختګ د دې شاخص په اړه هرومرو مثبت ارقام نه ښکاره کوي. د بېلګې په توګه د جيني شاخص ارزښت په ۲۰۱۶ ميلادي کال کې د امريکې په متحده ايالتونو کې ۰،۴۱۵ و. د دې شاخص ارزښت په همدې کال کې په بنګله ديش کې ۰،۳۲ او په يوکراين کې ۰،۲۵ و. په بل عبارت د دې شاخص ارزښت په بنګله ديش او يوکراين کې چې د ودې کچې یې د امريکې د متحده ايالتونو په پرتله ډېره ټيټه ده صفر ته زيات نږدې و، او په دې توګه د عايداتو ويش هم په دې هېوادونو کې د امريکې د متحده ايالتونو په پرتله عادلانه و. د دې شاخص ارزښت د ۲۰۱۴ ميلادي کال د ارقامو له مخې په جنوبي افريقا کې له هر بل هېواد څخه يوه ته ډېر نږدې وو، يعني دعايداتو ويش پکې له بل هر هېواد څخه چې دا شاخص پکې سنجول شوی دی، زيات غير عادلانه و (۰،۶۳) (ويکيپيديا، ۲۰۲۰).



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ملګرو ملتونو سازمان پرمختيايي پروګرام له ۱۹۹۰ ميلادي کال راپدې خوا د هېوادونو د ودې او سوکالۍ د سنجولو لپاره د انساني ودې شاخص (Human Development Index) کاروي. دا شاخص د سرانه عايد برخلاف د ودې د سنجولو لپاره د اقتصادي اړخ تر څنګ انسان او د هغه وړتياوې او ظرفيتونه هم په پام کې نيسي. دا شاخص پر درې ابعادو ولاړ دی؛

- د روغتيا بعد چې اساسي برخه يې د ژېږون پر مهال ژوند ته تمه (Life Expectancy) ده. ژوند ته تمه د منځني عمر شاخص په نامه هم يادېږي. د منځني عمر شاخص داخبره په ګوته کوي، چې په ټولنه کې د عمر منځنی اوږدوالی څومره دی.
- د ښوونې او روزنې بعد، چې ښوونځيو ته د ماشومانو له داخلېدو وروسته په ښوونځيو کې د منځنيو کلونو (تمه کېدونکو کلونو) زده کړو او ښوونځيو ته د ۲۵ کلنو او له هغه زيات عمر لرونکو وګړو د تګ منځنيو کلونو پر بنسټ سنجول کېږي او په دې توګه د ښوونې او روزنې شاخص ترلاسه کېږي.
- د ژوند د کچې بعد، چې د سرانه ناخالصو ملي عايداتو شاخص پر بنسټ سنجول کېږي، چې په پاسنۍ برخه کې مو تشريح کړو.

د روغتيا نړېوال سازمان له مخې ژوند ته تمه "د زېږون پرمهال ... د وګړو د مړيني عمومي کچې ته انعکاس ورکوي. دا د مړينې د انځور لنډيز دی، چې په ټاکلي کال کې د ټولو ګروپونو؛ د ماشومانو، ځوانانو، لويانو او سپين ږيرو په مينځ کې شتون لري" (د روغتيا نړېوال سازمان، ۲۰۱۹). په يوه ټولنه کې د منځني عمر پر کچه د روغتيايي برخو ودې ترڅنګ نور عوامل هم رول لري، لکه ټولنيز موقف، د عايداتو کچه، تعليم او تربيه، اقتصادي وده او داسې نور. په دې توګه وېلای شو چې د انساني ودې شاخص بېلابېلي برخې له يوه او بل سره تړاو لري. په تېرو کلونو کې، په افغانستان کې د روغتيايي خدمتونو د ودې له امله د زېږون پر مهال د منځني عمر شاخص، د نړېوال بانک د ارقامو پر بنسټ وده کړې ده او په ۲۰۱۷ ميلادي کال کې په هېواد کې منځنی عمر ۶۴ کاله و (نړېوال بانک، ب، ۲۰۱۹). افغانستان د دې شاخص له مخې په نوموړي کال کې د نړۍ د ۱۹۲ هېوادونو په ډله کې ۱۵۸ ځای درلود.

د روغتيا نړېوال سازمان د ارقامو پر بنسټ په تېرو ۱۷ کلونو کې په افغانستان کې روغتيايي خدمتونو په ټول هېواد کې وده کړې ده. په ۲۰۱۸ ميلادي کال کې په هېواد کې ۳۱۳۵ روغتيايي مرکزونه فعال وو او د دوو ساعتونو په واټن کې يې د هېواد ۸۷٪ وګړو ته روغتيايي خدمتونه برابرول. په دې توګه که په ۲۰۱۸ ميلادي کال کې د افغانستان د وګړو شمېر ۳۷ ميليونه فرض کړو نو د هرو ۱۲۰۰۰ تنو وګړو لپاره يو روغتيايي مرکز موجود وو. د افغانستان امنيتی حالاتو ته په کتنه پورتنی رقم (۸۷٪) زيات د باور وړ نه ښکاري، ځکه چې په هېواد کې به د امنيتي حالاتو له امله په زياتو سيمو کې سخت کار وي چې د هېواد ۸۷٪ وګړو ته روغتيايي خدمتونه چمتو شي. د هېواد کابو ۷۵٪ وګړي په کليو کې ژوند کوي او رواني جګړې او منازعې تر زياته حده په همدې سيمو کې رواني دي.
په هېواد کې د ۲۰۱۵ - ۲۰۲۰ ميلادی کلونو لپاره د روغتيايي خدمتونو د ودې يوه پاليسي طرح شوې ده چې د دې پاليسي په عملي کېدو کې د ملګرو ملتونو سازمان او د روغتيا نړېوال سازمان د افغانستان له دولت سره مرسته کوي (د روغتيا نړېوال سازمان، ۲۰۱۹).

په همدې توګه د ښوونې او روزنې وده هم د ملي اقتصاد پر وده او پرمختګ لوی اغيز لري. په هره اندازه چې په يوه ملي اقتصاد کې تعليم او تربيه او فني زده کړې پراختيا ومومي، په هماغه اندازه په توليدي فعاليت کې د بوختو کسانو د کار مؤثريت زياتېږي، چې دا خبره په خپله له نورو عواملو سره يوځای د کار د مؤلديت د لوړېدو، د توليد شوو توکو او خدمتونو د کيفيت د لوړېدو او د بيې د راټيټيدو لامل ګرځي. په دې توګه په ملي اقتصاد کې مجموعي غوښتنه (تقاضا) له يوې خوا د مشغولا د زياتوالي او له بلې خوا د محصولاتو د کم نرخ له امله زياتېږي. کله چې په ملي اقتصاد کې توکو او خدمتونو ته غوښتنه زياته شي نو دا په دې معنی ده چې د خلکو عايدات هم زيات شوي دي. دغه پرمختګ په خپل وار د خلکو د ژوند د کچې د لوړېدو لامل ګرځي. هر څومره چې په يوه ټولنه کې د خلکو د ژوند کچه لوړه وي، په هماغه اندازه ټولنيزو خدمتونو ته د وګړو لاسرسی هم زياتېږي، لکه روغتيائي، تعليمي او نور ټولنيز خدمتونه. دا وده په پايله کې د کورنيو نا خالصو محصولاتو د زياتوالي لامل هم ګرځي.

د يونيسيف د ارقامو له مخې په افغانستان کې په تخميني توګه ۳،۷ ميليونه ماشومان ښوونځيو ته د تلو له شونتيا محروم دي، چې د هغو په ډله کې ۶۰٪ نجونې دي. له يوې خوا په هېواد کې په عمومي توګه د ښوونځيو کمښت موجود دی، په ډېرو سيمو کې ښوونځيو ته د تګ لارې اوږدې او هم سختې دی. د دې ترڅنګه په ښوونځيو کې د ښوونکو تحصيلي کچه هم په پوره اندازه لوړه نده او په دې توګه زده کوونکو ته لازمې زده کړې نشي برابرولی. له بلې خوا د نجونو لپاره د ښوونځيو شمېر هم ډېر کم دی، ښځينه ښوونکې کم دي، ښوونځي لازم روغتيايي تسهيلات نلري. په ډېرو سيمو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کي د ټولنيزو او دوديزو عواملو له مخي او هم دا چي د نجونو ۱۷% برخه له پنځلس کلنی تیټ عمر ودېږي هم د دي لامل ګرځي چي په ښوونځيو کي د ښځينه زده کوونکو شمېر کم وي (یونیسیف، ۲۰۱۸). دا يو حقيقت دی چي په تېرو کلونو کي په افغانستان کي د ښوونې او روزني په برخه کي يو څه پرمختګ رامنځته شوی دی خو دا پرمختګ له يوې خوا تر ډېره حده يو کمي پرمختګ دی، په دې معنی چي د زده کړو شونتیاوې زياتي شوې دي اما کيفيت يې د تېرو کلونو په پرتله کم شوی دی. له بلې خوا هر کال تعليمي او تحصيلي بنسټونه په زرګونه فارغان ټولني ته وړاندې کوي چې د اقتصادي فعالیت د کموالي له امله يوازې د بېکارانو شمېر زياتوي، د هېواد په توليدي او خدماتي موسسو کې په پوره اندازه جذبېدلای نشي او په پایله کي د بېکارۍ د زياتېدو لامل ګرځي.

د پورتنيو تشريحاتو پر بنسټ ويلای شو چي د انساني ودې شاخص په افغانستان ټيټ دي. څرنګه چي وويل شول دا شاخص د درې نورو شاخصونو (د منځني عمر شاخص، د ښوونې او روزنې شاخص او د ناخالصو سرانه عايداتو شاخص) يو منځنی، د صفر او يوه تر منځ، ارزښت دی. که د دې شاخص ارزښت له ۰،۹ لوړ وي په ټولنه کې د انسان د ودې ډېره لويه کچه، که د ۰،۹ او ۰،۸ ترمنځ وي لويه کچه، که د ۰،۸ او ۰،۵ ترمنځ وي منځنۍ کچه او که د صفر او ۰،۵ ترمنځ وي ټيټه کچه ښکاره کوي (د برلين آزاد پوهنتون، ۲۰۲۰).
د ملګرو ملتونو د ارقامو پر بنسټ، په افغانستان کي د انساني ودې شاخص په ۲۰۱۳ ميلادي کال کي ۰،۴۶۸ او په ۲۰۱۹ ميلادي کال کي ۰،۴۹۶ و او د نړۍ د ۱۸۹ هېوادونو په مينځ کي يې ۱۷۰ ځای لرلو .

**اخځليک:**


۱- نړيوال بانک، ناخالص ملي عايدات، د اټلس میتود (په روانو بيو، امریکايي ډالر)، ۲۰۱۹،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: نړيوال بانک
(د لاسرسي نيټه: ۲۰۲۰/۰۱/۲۶)

۲- نړيوال بانک، په افغانستان کي د بېوزلۍ په اړه نوي ارقام: د عمل غوښتنه، نه د ناامېدۍ دليل ، ۲۰۱۸،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: نړيوال بانک
(د لاسرسي نيټه: ۲۰۲۰/۰۲/۰۷)

۳- د اقتصاد قاموس، جيني ضريب
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: د اقتصاد قاموس
(د لاسرسي نيټه: ۲۰۲۰/۰۲/۰۷)

۴- ويکي پيډيا، د عايداتو د ويش له مخي د هېوادونو لست
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: ويکي پيډيا
(د لاسرسي نيټه: ۲۰۲۰/۰۲/۰۷)

۵- د روغتيا نړيوال سازمان، د افغانستان روغتيايي سيستم، ۲۰۱۹،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: د روغتيا نړيوال سازمان
(د لاسرسي نيټه: ۲۰۲۰/۰۲/۰۷)

۶- نړيوال بانک، د زېږېدنې پر مهال ژوند ته تمه، ټول (کلونه) - افغانستان، ۲۰۱۹،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: نړيوال بانک
(د لاسرسي نيټه: ۲۰۲۰/۰۱/۲۶)

۷- د روغتيا نړيوال سازمان، د افغانستان روغتيايي سيستم، ۲۰۱۹،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: د روغتيا نړيوال سازمان
(د لاسرسي نيټه: ۲۰۲۰/۰۲/۰۴)

۸- يونيسيف، ټولو ته د کيفيت لرونکي روزنې برابرول، ۲۰۱۸،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: يونيسيف
(د لاسرسي نيټه: ۲۰۲۰/۰۲/۰۷)

۹- د برلين آزاد پوهنتون، د انساني ودې شاخص، ۲۰۲۰،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: د برلين آزاد پوهنتون
(د لاسرسي نيټه: ۲۰۲۰/۰۲/۰۷)


پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ